خوشنویس امین جان امین
ریڈیو پاکستان

منصور پلاسٹک کور پریس ڈی آئی خان
۲۷/ اگست ۲۰۱۸ء

کہ عقل

نظمونہ

قلم

ختک سکند

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نقل یو لعنت

نقل خو جوړه تباهي کړله قدم په قدم
درنه يې سلب کاميابي کړله قدم په قدم

بچو محنت وکړئ دا نقل خو نقصان درکوي
تباه کوي دې مستقبل دا پرتاوان درکوي
پوهه به پرې نه شې داسې پټ ګذار په ځان درکوي

نقل دې ختم خوشحالي کړله قدم په قدم
درنه يې سلب کاميابي کړله قدم په قدم

نقل دې بشکلے مستقبل بربادوي اوګوره
نقل په هر ځائ دې هر چاته تېښتوي اوګوره
د علم شمعې دې هر ځائ کښې مړوي اوګوره

نقل دې ختم ستا خودي کړله قدم په قدم
درنه يې سلب کاميابي کړله قدم په قدم

آرمانې لرې د قوم احساس ملګرو
ځکه داسې جذباتي نظمونه ليکي

د کرګ ضلعې ختمک به پرې نازېږي
چې د مينې خوند ور شعرونه ليکي

چې ځارېږي په اخلاص د خپل وطن نه
هميشه داسې قومونه سرفراز وي

خوشنويس امين جان امين ريډيو پاکستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



بچو د نقل نه په زړونو کښې نفرت پیدا کړي
شمعې د علم بلوي ځان کښې همت پیدا کړي
په معاشرې کښې ډېر اعلیٰ مقام اوچت پیدا کړي

○

نقل دې وران ترقي کړله قدم په قدم
د نه ئې سلب کامیابي کړله قدم په قدم

○

نورو قامونو علم اوکړو ترسیوړ مې اوختل
نقل ئې پرېښود په مقام د ترقي اوختل
په خپل محنت په لوړ مقام د کامیابي اوختل

○

تا سو ترې جوړ مجبور کړي له قدم په قدم
د نه ئې سلب کامیابي کړله قدم په قدم

○

نن ځکه پاتې په تعلیم کښې له هر چا نه شولي
ځان دې په نقل کړلو پاس ځکه پرېشانه شولي
په لاس څه نه درځي او س پاتې له کاروانه شولي



تا خو په خپله بېا غوري کړله قدم په قدم
د نه ئې سلب کامیابي کړله قدم په قدم

○

ارماني وائي چې د انقل خوشحالي ورکه وي
د هر بچي په مستقبل کښې ترقي ورکه وي
په حقیقت کښې د غه نقل کامیابي ورکه وي

○

دا ذرا ځکه ارماني کړله قدم په قدم
د نه ئې سلب ترقي کړله قدم په قدم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## "څومره پسمانده علاقو کښې اوسئ"

### نظم

څومره پسمانده علاقو کښې اوسئ
زما د تهل خلقو تیارو کښې اوسئ

○

نه مو اوبه نه مو بجلي اولیدې
نه مو څه نورې کامیابي اولیدې
نه مو د چا څه همدردي اولیدې
د ژوند په لاره مو سختئ اولیدې

○

هسې د خیال په محلو کښې اوسئ
زما د تهل خلقو تیارو کښې اوسئ

○

علم حاصل کړئ ترقي به وکړئ
نورو قامو سره سیالي به وکړئ
چاته به تیټ نه شئ خاني به وکړئ
د تهل په خاوره بادشاهي به وکړئ



ولې د غم په شپه ګیرو کښې اوسئ
زما د تهل خلقو تیارو کښې اوسئ

○

زمونږ تعلیم کښې کمزوري یې راغلې
ځکه نیستي بې روزګاري راغلې
کرپشن په وجه د ګراني راغلې
ځکه د قام ملک تباهي راغلې

○

د پرونازکو مرحلو کښې اوسئ
زما د تهل خلقو تیارو کښې اوسئ

○

قامونه لاړل ترسپوږمي اوختل
په لوړ مقام د کامیابي اوختل
تعلیم ئې وکړو مېړني اوختل
په ډېر تعلیم په ترقي اوختل

○

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا سو د ژوند په تورو شپو کښې اوسئ
زما د ټول خلقو تیارو کښې اوسئ

○

په ټول کښې چې پر تعلیم یافته خلق دي
نورو قومونو کښې ښکاره خلق دي
کمزوري نه دي دا تکړه خلق دي
ګلان ګلان دي ښایسته خلق دي

○

تا سو لا بیا هم په ازغو کښې اوسئ
زما د ټول خلقو تیارو کښې اوسئ

○

نقصان په خپله رسوئ بچو ته
چې نقل خپله وړ کوئ بچو ته
خپله ماحول خرابوئ بچو ته
ولې دا ژوند بربادوئ بچو ته



بد قسمتي ده په نقلو کښې اوسئ
زما د ټول خلقو تیارو کښې اوسئ

○

راځئ فضا به د خوژلت جوړه وو
په کښې به امن او راحت جوړه وو
زړو کښې به مینه محبت جوړه وو
ژوند به ښکلې حقیقت جوړه وو

○

بیا به د خوند ډکو لمحو کښې اوسئ
زما د ټول خلقو تیارو کښې اوسئ

○

راویښ شئ پرېږدئ د غفلت خوبونه
ضایع کوئ خپل قیمتي وختونه
ځي مخ په وړاندې دغه نور قامونه
تا سو لا سم نه کړل دا خپل ځانونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه خو هر وخت اندېښنو کښې اوسئ
زما د نقل خلقو تیارو کښې اوسئ

○

خدایه په قام کښې تبدیلي راولې
نفرت کړې لرې ورورولي راولې
هره خوا امن خوشحالي راولې
چې په قام ننګ کړي ننګیالي راولې

○

همېشه رب له په سجدو کښې اوسئ
زما د نقل خلقو تیارو کښې اوسئ

○

د ارماني خبرې یادې لرئ
دا قیمتي خبرې یادې لرئ
د کامیابي خبرې یادې لرئ
دغه اصلي خبرې یادې لرئ



د امید ونو باغیچو کښې اوسئ
زما د نقل خلقو تیارو کښې اوسئ

## یو څو شعرونه

ځان په نقل پاس کول څه توره نه ده
په ټکي میدان ګټل څه توره نه ده
ارماني وائي چې ذهن مینه ئې نه وي
هسې سکول ته تلل راتلل څه توره نه ده

○

نقل مستقبل برباد وي ګوره
نقل نتیجه وي تباهي ګوره
خیل بچې د نقل نه محفوظ ساته
تا ته نصیحت کړي ارماني ګوره

○

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نقل، نقل دي

نقل وي نقل قیمتي به نهٔ شي
پالش شي وکړه خو اصلي به نهٔ شي

چا چې تعلیم وکړو نقلونو باندې
پیدا په هغو کښې خودي به نهٔ شي

میوې دَ علم چې نصیب وي دچا
خوار په ژوندون کښې ترمرګې به نهٔ شي

څوک چې دعلم سره مینه کوي
ارماني وائي ارماني به نهٔ شي

## یو څو شعرونه

مینه د وَطن سره مزه کوي!
جنګ له خپل دُشمن سره مزه کوي
نور ئې دَ زغملو طاقت نهٔ لري
غم له هر مَیِن سره مزه کوي

په وطن قربانېدل کوي ډېر خوند
شهادت جامونهٔ څښل کوي ډېر خوند
دا خټک بې شکه ډېر مهمان نواز دي
څکه دُوئ په لوري تلل کوي ډېر خوند

ارماني به همېشه ورته نصیحت کړي
که خټک اونیسي غوږ ددهٔ قیمتي ته

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**